AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاين

مسئووليت متن و شکل بدوش نويسندهٔ مضمون ميباشد، عقيدهٔ نويسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاين نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آريا ٢٠٢۴/٠۴/٠١

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم ټوک

**۳۵۹ مه پرله پسي برخه**

## کابل
## او د افغانستان سويل – ختيځ

ايديټ:
ډاکټر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **مهتر لام**: ۳۹ – ۳۴، ۱۲ – ۷۰: مهترلام د لغمان د ولايت يوه ولسوالي ده. دا ولسوالي چې ۵۳۴ کيلومتر مربع مساحت لري له ۱۵۶۷۸ تر ۳۱۰۶۲ تنو پورې وگړي لري .چې بزگرې پرگنې دي. دا ولسوالي له شمال لوري له اليشنگ او الينگار، له ختيځ او سويل لوري له قرغه يي او له لويديځ لوري د سروبي له ولسوالي سره کربنه لري. د مهترلام ولسوالي ۷۹ کلي لري چې ۴۴ ئـي له ۵۰۰ تنو ډېـر استوگن وگړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تیـرگړي | Tirgari | سنگ توره | Sangturah | چاردهي | | دوپي سفلی و شمانه | |
| Dopi -i -Sufla wa Shamana | | دوپي عليا | | قلعـهٔ حيدر خان | | باغِ ميرزا | |
| گن آهو | Gan Ahu | کلا کوټ | Kalakot | عمر زيي | | ايشک اقاسي «شاغاسي» | |
| Ashak Aghashi (Shag hasi) | | الکوزي | Alakozai | کنج | Kunj | تاندي | Tandi |
| «ماوزو عمرزي» ؟ | | (Mawzo- i- Omarzai) | | بغل | Baghal | شيرگړ | Shirgar |
| دنداه | Dendah | پشه يي | Pashai | تورکتور سلطان غازي آغا | | Torkotor Sultan -Ghazi Agha | |
| دِهٔ ملخ | Deh Malakh | گومين | Gomin | دِهٔ بغلک | | چارگلـهٔ وردکيه | |
| Chargala -i- Wardakiya | | سه ساده «سه صد راه» | | Sehsadah (Sehsadrah) | | قلعـهٔ صافي | |
| جوی سراج | | شامتي و کچور | | Shamati Wa Kachur | | چهل متي | Chehil Matai |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خدیه | Khadiya | «شور آوي» | (Shorawai) | قلعـهٔ غلام خان | | قلعـهٔ پُردل | |
| کپله | Kapla | الیشنگ | | کارنجِ الي گین | | Karenj -i -Aligning | |
| قریـهٔ مریم | | دِهٔ زیارت | | ډیوه تاندي | Dewah Tandai | نو دام پور | Naudam Pur |
| بازید خیل | Bazid Khel | شمان گل | Shamangul | نو راه | Nurah | آخوند آباد «حاکم آباد» | |
| هرمال | Harmal | قلعـهٔ مین | Qala -i -Min | ناله وي | Nalawi | نولام | Nolam |
| نولام ابوساه خیل | | Nolam Abusah Khel | | کنده نولام | Kandah Nolam | تاج گلي | Tajgalai |
| گل کاري | Gulkari | ماشي خیل «موشه خیل» | | Mashikhel (Mosha Khel) | | دو آبِ قلعــهٔ نو | |
| چندک و خواجه صاحب | | Chandok wa Khwaja Sahib | | پادشاه خیل | | سایه کنده | Saya Kandah |
| شاله تک | Shala Tak | بادیش | Badish | ماس خوره (مس کو وه) | | Maskorah (Maskowa) | |
| کوتل | Kutal, | میداني | | کچور شامتي | | Kachur -i-Shamati | |
| آبي زي | Abizai | نیلاوتي | Nilawati | محمد خیل و شور آبه | | علي خیل | |
| بسرام | Basram | بادي آباد | Badiabad | احمدزي | | لنداخیل | Landa Khel |
| تبي کنج | Tabikunj | دود کوچي | Dud -Kochi | قریـهٔ درکي پنج پای | | Qarya-i- Daraki- Panjpaye | |
| قریـهٔ جوگي | | محمد پور | | اندلو | Andlo | گالوچ | Galoch |
| نو آبادِ مچن خیل | | Nawabad -i-Machan Khel | | چپر ها | Chaparha | مزکوره | Mazkurah |
| بـیـلـه | Bela | بلوچ کلي | | بغلک | | باچاخیل | |
| احمدزي | | کتل «میداني کتل» | | Kutal (Maidani -Kutal) | | | |

**میلني** :؟: **میرني** – ژ: [1]: ۱۲ – ۳۳، ۳۰ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د سویل ختیځ په ۳۰ مایلۍ کې د غزني د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کې د غلزیو د علاقې په «شلګهر غرهٔ» [2] کې یو کلی دی. دې کلي کې د کلا ګانو یوه ډله ده چې اندړ په کې استوګن دي. (اوترام، براد فوټ)

**میرګرام**: [3]: ۲۰ – ۳۲، ۲۴ – ۷۱ «ج»: دا د باشګل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې اساساً د خپل غرني سیند په ښی غاړه کې ودان سوی دی. دا کلی ۳۳ کورونه لري؛ کلي ته د رسیدلو لاره د باشګل د سیند له ښی غاړې څخه د یوهٔ عجیب کاواکه اولړزاند پلـهٔ له لارې کـېـږي. د میرګرام په وګړو کې یو ګڼ شمـېـر لیرې پراتـهٔ وګړي شامل دي چې د کام د قبـیلې د وګړو لپاره د پناه ښارګوټي په شان دی. (رابرټسن)

**میش**: آبِ میش: وګورئ: «مندی نوت» [4]

**میشه** : [5]: ۴۴ – ۳۴، ۵۵ – ۶۶ «ج»: دا د «یخ ولنګ» [6] په ولسوالي کې یوه نیمه کنډواله خو استوګنه کلا ده چې د «فیروز بهار» «قلعـهٔ میانه» [7] د لویدیځ په ۶ مایلۍ کې واقع او د یوې لوړې ورجستي ډبرې پر سر د «روډِ بندِ امیر» [8] په کیڼې غاړې کې موقعیت لري. (میتلند)

---

[1]-MELANAI
[2]-Shilghar
[3]-MERGROM
[4]-MADINUI
[5]-MESHA
[6]-Yakh Walang district
[7]-Ferozbahar (Kala Miana)
[8]-Rud-i- Band -i-Amir


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**مست** : ۵۸ – ۳۲، ۳۳ – ۶۸ «ن»: دا د غلزیو په سیمې کې د «ډند» [9] او «مش خیل» [10] تر منځ په «کټه واز» [11] کې د «کټه سنګ» [12] د غرهٔ په بیخ کې یو کلی دی. دلته د سلیمان خیل غلزیو څو کلا ګاني دي ؛ له دې ځایه اوبـهٔ تر لاسه کیدای سي. (براد فوټ)

* **میتر**: [13] : ۲۶ – ۳۳، ۴۲ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د غزني په سویل ختیځ کې او د ،بندِ سردهٔ، په شمال ختیځ کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه د میدان د ولایت د وردک په سیمه کې د سیدا آباد په لویدیځ کې او د جغتو په شمال کې په ۵۹ – ۳۳، ۲۸ – ۶۸ «ن»؛ د بامیانو په ولایت کې د ،پیتاو قول، په شمال کې د هلمند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې په ۹ – ۳۴، ۱۰ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

* **میانـه** :۲ – ۳۴، ۳۳ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په سویل کې ،سفید آب، ته نېـږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه : د «جلګې» [14] په شمال لویدیځ کې په ۱۱ – ۳۳، ۱ – ۶۷ «ن» کې؛ د «لال چک» [15] په ختیځ کې د «بغرا» [16] په سیمې کې په ۱۹ – ۳۳، ۹ – ۶۷ «ن» کې؛ د «دشتِ ناور» [17] په لویدیځ کې «سنګده» [18] ته نېـږدې په ۳۲ – ۳۳، ۳۵ – ۶۷ «ن» کې؛ د «پای تنګې» [19] په شمال ختیځ کې د «ناوهٔ خدا داد» [20] د غاړو په اوږدو کې په ۱۶ – ۳۳، ۳۵ – ۶۷ «ن» کې، او د غزني په شمال لویدیځ کې «سغانه» [21] ته نېـږدې په ۴۴ – ۳۳، ۶ – ۶۸ «ن» کې واقع دي؛ دا ټول د غزني په ولایت کې دي.

**میانه قلعه**: دا د ،یخ ولنګ، په ولسوالي کې فیروز بهار ته نېـږدې یوه کلا ده. دلته د درې په دې برخې کې ټول ټال ۳ کلا ګاني سته او درې واړه ئـې د سیند په کینه غاړه کې موقعیت لري. تر ټولو لویدیځه کلا ئـې «رش» نومېـږي؛ منځنی کلا «سفیدک» یا «قلعـهٔ میانه» نومېـږي او د دریمې کلا نوم ئـې ناڅرګند دی. دلته د هزاره ګانو له ۲۰ تر ۳۰ پورې کورنی میشتې دي. (میتلند) په دې نوم یو کلی د څکمنیو د لویدیځ په ۲ مایلۍ کې په ۴۷ – ۳۳، ۴۴ – ۶۹ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

* **میان داد: میا داد** : [22]: ۳۶ – ۳۳، ۳۰ – ۶۸: دا د غزني د شمال ختیځ په نېـږدې ۶ مایلۍ کې خروار ته د تللې سړک د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**میاني:** وګورئ : پیونده

---

9-Dand
10-Mish khel
11-Katawaz
12-Katasang
13-METAR
14 -Jelga
15 -Lalchak
16-Bughra
17-Dasht -i- Nawer
18-Sangdah
19-Pai Tangi
20-Nawa -i- Khoda -i -Dad
21-Saghana
22-MIANDAD


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**میانِ دوه کوه**: ۳۷ – ۳۴، ۲۲ – ۶۷ «ن»: دا نوم د «سرِ بولاق» [23] د دري پورتني برخي ته اطلاق کېږي چي د بابا په غرني لړۍ کي د «زرد سنګ» [24] په کوتل منتهي کېږي. د همدې کوتل د سويل په نېږدې ۲/۱ – ۴ مايلۍ کي د ميانِ دو کوه يو کوچنی کلی دی چي د بهسود هزاره ګانو ۱۰ کورونه په کي دي. له دې کلي کوز د نيم مايل په اوږدوالي يو کوچنی ميدان دی او تر ۲۰۰۰ تنو پورې سرتېري په کي کمپ وهلای سي، دلته اړتيا توکي نـهٔ موندل کېږي او سون توکي په کي لږ دي. (آی. بي. سي)

**ميان خيل**: : ميا خيل: وګوری : لوهاني: په دې نوم يو کلی په لغمان کي د قلعهٔ سراج د سويل ختيځ په نېږدې ۵ مايلۍ کي په ۳۶ – ۳۴، ۱۴ – ۷۰ «ج» کي موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**ميان نشين**: دا د دای چوپان هزاره ګانو يوه فرعي څانګه ده.

**ميان عمر زيارت**: ميا عمر زيارت: دا د ګريز د شمال ختيځ په نېږدې ۲۷ مايلۍ کي د سړک پر غاړې يو کلی دی چي دا سړک له همدې ځايه د ميرزکي کوتل ته ځي. (آی. بي.سي)

**ميچين خيل**: وګورئ: پوونده

**مينزي**: وګورئ: علي خيل

* **مينزي** : [25]: ۳۶ – ۳۲، ۱ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولايت کي «ډيله» [26] ته نېږدې يو کلی دی. په دې نوم نور ځايونه: د وازې خوا په لويديځ کي په ۱۰ – ۳۲، ۱۶ – ۶۸ «ن» کي؛ او د «ور» [27] په شمال ختيځ کي په ۹ – ۳۲، ۴۱ - ۶۸ «ن» کي واقع دي؛ دواړه ځايونه د غزني په ولايت کي دي.

**مير آدينه**: دا د پولاده هزاره ګانو يوه څانګه ده.

* **ميرا ګل کلی**: ۵۹ – ۳۲، ۱۱ – ۶۹ «ن»: دا د پکتيا د ولايت د اورګون د شمال په نېږدې ۴ مايلۍ کي يو کلی دی.

**ميرک**: دا د محمد خواجه هزاره ګانو يوه څانګه ده.

**مير آخور آغا جان**: مير آخور آغه جان: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کي د علاء الدين په ښارګوټي کي يوه کلا ده. استوګن وګړي: قزلباشان او ګادي هزاره ګان. دا کلا شپږ برجونه او ۱۸ کورونه لري. (آی. بي.سي)

**مير آخور علي محمد خان**: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کي د کابل د سيند د ښي غاړې په اوږدو کي د ريشخور او قلعهٔ فتو تر منځ يوه کلا ده. استوګن وګړي: تاجيکان او ګادي هزاره ګان. دا کلا ۴ برجونه او ۲۰ کورونه لري. (آی. بي. سي)

---

23-Sar -i-Bulak valley
24-Zard Sang pass
25-MINZAI
26 -Dila
27-Wur


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

* **میر علم**: ۱۵ – ۳۳، ۱۹ – ۶۸ «ن»: دا غزني ته د تللي لويي لارې په ختيځ کې د «موشه کي» [28] په شمال ختيځ کې يو کلی دی.

**میرامور**: وګورئ: دای کنډي

* **میران**: ۱۳ – ۳۴، ۱۸ – ۶۸ «ن»: دا د ميدان په ولايت کې په درهٔ جلګه کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای په «لډور خولهٔ» [29] کې د «زورکوټ» [30] په شمال لويديځ کې په ۳۵ – ۳۳، ۳۷ – ۶۹ «ن» کې موقعيت لري.

**میران خیل**: دا د ځاځيو يوه څانګه ده چې ۶ کلا ګاني لري او هره کلا ئـې ۳۰ کورونه لري او هره کلا کولای سي ۳۰ تنه جنګيالي چمتو کړي. (آغا عباس)

**میران خیل**: دا د منګلو د قبـيلې يوه څانګه ده.

**میران شاه**: ۱۵ – ۳۳، ۴ – ۷۰ «ج»: دا د پنجشير په پورتـني منځغري يا ميان کوه کې له عنابي تقريباً ۲/۱ – ۱ مايل کوز يو کلی دی چې د تاجيکانو ۴۰ کورنۍ په کې دي. نېـږدې يو مايل کوز د «زمان کور» [31] کلی دی چې ۱۲ کورونه لرې. (شهزاده تيموس)

**میر بچه**: دا د دايزنګي هزاره ګانو د ينغور د قبـيـلې يوه فرعي څانګه ده. په دې نوم يو کلی د ميدان د پنج پای په شمال کې په ۲۸ – ۳۴، ۱۳ – ۶۸ «ج» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**میر بچه**: دا د دولت پای بهسوديانو يوه فرعي څانګه ده.

**میربچه**: دا د بوالحسن بهسوديانو يوه فرعي څانګه ده.

* **میربچه کوټ** : ۴۱ – ۳۴، ۵ – ۶۹: ميربچه کوټ د کابل د ولايت يوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۶۳ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې له ۱۲۵۰۰ تنو څخه تر ۱۵۱۲۰ تـنو پورې چې بزګر وګړي دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لويديځ او سويل لوري له شکر درې، له شمال لوري له ستالف او کلکان او له ختيځ لوري له دِه سبز سره کربنه لري. ميربچه کوټ ۲۸ کلي لري چې ۱۷ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دی:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مرکي | Marki | قولوغ | Qulugh | دِهٔ مير | | قلعـهٔ آخوند | |
| قنات ِ زلفي | | قربان سلطان | | دکوی سفلی | | Dakoye Sufla | |
| دِهٔ صادق ِ سفلی | | لچکان | Lochakan | سرای خواجه | | ګزر ِ ميوه خاتون | |
| Guzar -i -Mewa Khatun | | ګزر | Guzar | شيخان ِ باقه بيګ | | Shaikhan -i- Baqabeg | |
| لغماني کوله ِکوکه | | Laghmani Kola (koka) | | بالا آب | | قلعـهٔ خانان | |
| خواجه ګيا | Khwaja Gia | بابه قچقار | Baba Quchqar | بالا دِهٔ لچکان | | Baladeh Luchakan | |
| زمين آغور | Zamin Aghor | دکوی عليا | | اراضي | Arazi | شيخان | |

28-Mushakai
29-Lador Kholeh
30-Zurkot
31-Zamankor


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| سه آب و چرمگر | Sayab wa Charmgar | خروټي | صوفيان |
| دۀ صادقِ عليا | جوييار | | |

**مير چپر**: وګورئ: چارخيل : [32]:

**مير داد:** داى ميرداد د غزني د ولسوالي يوه علاقه داري (يا "تپه" [33] ده) چي له دغو سيمو سره کربنه لري: له شمال او لويديځ لوري له هزاره بهسود، له سويل او ختيځ لوري له وردک سره کربنه لري.

د داى ميرداد استوګن وګړي اکثريت وردک دي خو هزاره ګان او قزلباشان هم په کي لږ لږ ليدل کـېـږي. "تپه" «يا داى ميرداد – ژ» له ختيځ او لويديځ لورو غرونه لري او په دې توګه دا دره د يوۀ سيند په اوبو خړوبېـږي چي هغه هم "تپه" نومېـږي او ډېـره سمسوره او ښه کرل سوي دره ده. دا دره له شماله مخ پر سويل ډېـره اوږده دره ده. د دې درې اساسي کرنيز محصول غنم دي. دلته د درې په لويديځ کي د سرپو يو کان سته خو اوس ځوک ورڅخه کار نـۀ اخلي. د امير شيرعلي پر مهال دلته د کارګرانو ډله ساتل کيدله او ويل سوي چي د سرپو توليد په يوۀ کال کي ۴ خرواره يا ۶۴ مونډه وو. د دې درې د کرنيزو ځمکو ماليات په کال کي تقريباً ۱۵۳۵۸ روپۍ دي. د ځمکو د مالياتو د «جمع بست سيستم» برياليى دى. (هستينګز)

**مير دِۀ**: دا د يخ ولنګ د ولسوالي په «دره علي» کي د بهسود هزاره ګانو د ۲۰ کورونو يو کلى دى. (اې. بي. سي)

**ميرګه بـيـلـه**: [34]: ۲۶ – ۳۴، ۳۰ – ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د بهسود په علاقه دارۍ کي يو کلى دى چي د کابل د سيند د کيڼي غاړې په اوږدو کي له هغـۀ ټکي څخه نېـږدې ۲ مايله پورته موقعيت لري چي د کونړ سيند د کابل له سيند سره يو ځاى کـېـږي. استوګن وګړي: تاجيکان او عربان. (جنکينز)

**مير غضب** : [35]: دا د غلزيو په سيمي کي يو کلى دى چي د غزني د سويل په ۱۲۰ مايلى کي موقعيت لري. دې کلي کي يوازې څلور کورنى ژوند کوي او د اوبو يوه چينه لري. استوګن وګړي ئـي ناصرخيل دي. (براد فوټ)

**مير غضب**: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کي د «ګاو خاني» او «قلعـۀ قاضـي» تر منځ يوه کلا ده. د دې کلا اوبـۀ له کاريز او له هغـۀ سيند څخه دي چي د کوروغ/ قوروغ له غرۀ څخه سرچينه اخلي. دا کلا ۶ برجونه لري او ۱۸ کورنى په کي ژوند کوي. (آى. بي.سي)

**ميرغلام**: ۰ – ۳۵، ۳۵ – ۷۰ «ج»: دا د کونړ په ولايت کي د چغه سراى د شمال لويديځ په نېـږدې ۱۹ مايلى کي يو کلى دى. (لودويګ آدمک) وګورئ: د هزاره جاتو په کله پوځي راپور: دوهمه برخه ؛ په دې نوم يو بل ځاى په هزاره جاتو کي هم سته.

**ميرګلاب**: ـ ۳۴، ـ ۶۹ : دا د کابل په شمال کي په کوهدامن کي يو کلى دى چي ۱۰ کورونه لري. (آى. بي. سي)

---

32-MIR CHAPPAR See CHARKHIL
33-"tappa "
34-MIRGA BELA
35-MIR GHAZAB



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

* **میر حسن**: ۲ ــ ۳۲، ۵۵ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کې د «مرني» [36] په ختیځ او «سنګه» [37] ته نېــږدې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د پاکستان کرښې ته نېږدې د ځمکنیو په شمال ختیځ کې په ۵۲ ــ ۳۳، ۵۳ ــ ۶۹ «ن» کې موقعیت لري.

**میر هزار** :دا د دای کنډي هزاره ګانو یوه لویه څانګه ده.

**میر هزار** : دا له زهاک پورته د «کلو» [38] په منځغري کې د «درغان هزاره ګانو» [39] د ۱۵ کورنیو یو کلی دی. (امیر خان) اوسنی نقشې د نرخ په سویل لویدیځ کې «هزاري» [40] په ۲۱ ــ ۳۴، ۴۵ ــ ۶۸ «ن» کې ښیي. (لودویګ آدمک)

**میر علی**: دا د بهسود هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده.

**میر جي قلعه**: دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه دارۍ کې یو کلی دی چې د ,مزیني, د شمال ختیځ په نېــږدې ۲ مایلی کې موقعیت لري. استوګن وګړي: سیدان. (جنکینز)

* **میر خان خیل**: ۲ ــ ۳۵، ۴۴ ــ ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کې د نجراب په شمال ختیځ کې «لوکه خیلو» [41] ته نېــږدې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د پروان په ولایت کې د غوربند د درې په شمال کې په ۴ ــ ۳۵، ۴۹ ــ ۶۸ «ن» کې موقعیت لري.

**میرکوټ**: ۲۸ ــ ۳۲، ۲۳- ۶۷ «ج»: دا له کندهاره تر غزني پورې د سړک په ۱۲۵ مایلی کې یو کلی دی. دا کلی دومره سوړ دی چې د ښاغلی فوستر په وینا د اکتوبر د میاشتې په پای کې به اوبـهٔ په مسین لوښي کې کنګل سوې او د شپې له پلوه به په ټینګ ډبرین کنګل واوښتلي. (فوستر)

**میر لالا کلا**: ــ ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه دارۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: سیدان. (جنکینز)

**میرزا احمد خان**: ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کې یوه کلا ده چې د سر آسیا په سیمه کې شامله ده؛ دا کلا له سر آسیا لږ پورته د سیند په غاړو کې ده. استوګن وګړي: تاجیکان، او بلوڅان ؛ د تاجیکانو ۱۲ کورنۍ او د بلوڅانو ۳ کورنۍ دي. (آی. بي. سي)

* **میرزا علي**: ۵۳ ــ ۳۲، ۵۱ ــ ۶۷ «ج» ؛ دا د غزني په ولایت کې د مقر د ختیځ په نېــږدې ۵ مایلی کې یو کلی دی. د دې کلي څنګ ته په ګاونډ کې ئـې په همدې نوم یو بل ځای دی چې په ۵۷ ــ ۳۲، ۵۲ ــ ۷۶ «ج» کې موقعیت لري.

---

36-Marnai
37-Sanga
38-Kalu
39-Darghan Hazara
40-Hazari southwest of Nerkh
41-Lukakhel


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**میرزا علي بد**: میرزا علي آباد؟: [42]: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخ آب په علاقه داری کې د میرزایانو د سویل لویدیځ په نیــږدې ۲ مایلی کې یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. جنکینز

**میرزا غیاث**: ۳۳ ـ ۳۴، ۱۳ ـ ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کې په دیوالونو کې محصور یو کلی دی چې د بیمارو د ختیځ په ۲ مایلی کې موقعیت لري. استوګن وګړي: تاجیکان. د دې کلي د دیوالونو بڼه مربع ده چې د مربعي د هر مخ اوږدوالی ئــې ۱۰۰ یارډه دی. (آی. بي. سي)

**میرزا غلام نبي**: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په ولایت کې د خواجه رواش او د وزیر آباد د بند تر منځ یو کوچنی کلی دی. تر دې کلي ونې راتاو دي او د کرنیزو ځمکو لمنه ئــې د وزیر آباد د بند تر ژیو رسېــږي. (آی. بي. سي)

**میرزا غلام صادق**: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل د ولایت په چاردهي کې یو کلا ده چې د آسیا په سیمې کې شامله ده او د سر آسیا او قلعـهٔ میرزا احمد خان تر منځ موقعیت لري. استوګن وګړي: تاجیکان. (آی. بي. سي)

**میرزا حبیب**: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کې یوه کوچنی کلا ده. دا کلا د (میدان د سیند ؟) [د کابل د سیند ـ ژ] [43] په ښی غاړه کې «دِهٔ بوري» [44] ته نیــږدې په هغـهٔ ټکي کې موقعیت لري چې د غزني سړک د «میدان» د سیند له سره تــېــرېــږي. (آی. بي. سي)

**میرزا هاشم**: ـ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کې د سرخاب د سیند په ښی غاړه کې د «بل آباد» [45] د ختیځ په نیــږدې ۳ مایلی کې یو کلی دی. استوګن وګړي: قزلباشان. (جنکینز)

**میر زي**: ـ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه داري کې یو کلی دی. استوګن وګړي: غلزي او لودیان. (جنکینز)

**میرزا جعفر**: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کې د «دِهٔ دانا» او «ریشخور» تر منځ یوه کلا ده. استوګن وګړي: ګادي هزاره ګان. (آی. بي. سي)

**میرزا جوات**: **میرزا جواد** ـ ژ: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کې د قلعـهٔ جعفر او عاشور تر منځ یوه کلا ده. استوګن وګړي: قزلباشان او ګادي هزاره ګان: ۱۵ کورونه. (آی. بي. سي)

* **میرزا قلعه** :۴۹ ـ ۳۲، ۵۷ ـ ۶۸ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د سید خیلو د شمال په څو مایلی کې یو کلی دی.

**میرزا خیل**: ۱۳ ـ ۳۴، ۸ ـ ۶۹ «ن»: دا د لوګر په درې کې د لوګر د سیند د ښی غاړې د ختیځ په ۲/۱ ـ ۱ مایلی کې او د زرغون ښار د شمال په ۸ مایلی کې یو کلی دی. استوګن وګړي: احمدزي. دا کلي په ۱۸۸۰ز کال کې له ۵

---

42 -MIRZA ALIBAD

43- Maidan stream : دلته په انګلیسي متن کې باید ټایپي تیروتنه سوې وي لیکوال وایي چې ده بوري ته نیږدې او پای کې ئـې بیا د میدان سیند یاد کړی دی، ماته د غه شرحه مبهمه ښکاري او یا دا چې ښایي کوم بل ځای هم د ده بوري په نوم وي. - ژ

44 -Deh -i -Bori

45 -Balabad



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی وو چي ۸۰ کورونه ئـي درلودل. (کليفرډ، ايوان سميټ) په دې نوم يو بل ځای د ننګرهار په ولايت کي په ۳۰ – ۳۴، ۴۰ – ۷۰ «ج» کي موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**ميرزکه:** سورخي: کوتل: [46]: ۱۰ – ۳۳، ۲۰ – ۶۹ «ج»: لوړوالی: ۹۰۰۰ فيټه. دا د منګلو په غرونو کي يو کوتل دی چي له «کرلاچي» [47] څخه تر غزني پوري د التيمور د کوتل له لاري تر کابل پوري سړک ورباندي تـېـرېــږي. د کوتل سر له «کرلاچي» څخه ۲/۱ – ۴ مايله او له غزني څخه ۲/۱ – ۹۳ مايله ليري دی. د کوتل سړک د اوښانو د تګ لپاره آسانه دی او ويل سوي چي په ډېــرې آسانی سره د عرابه لرونکو وسايطو د تګ لپاره عملي کيدای سي. ويل کـېــږي چي واورې دا کوتل بندوي. په دې کوتل کي يوه افغان پوسته ده چي د افغان د پلي منظم ځواک ۲۰۰ تنه سرتـېــري په کي ځای پر ځای دي. د کوتل په لويديځه لمن کي، د کوتل له سره ۱ مايل ليرې، د ميرزکي د کاريز يو کوچنی کلی دی، دلته د يوهٔ غنډ د کمپ وهلو لپاره ډېــر ځای سته او له «کرلاچي» څخه دريم منزل جوړوي، د دې ځای اوبـهٔ له کاريز څخه دی. (آی. بي. سي)

**ميرزکه:** ۴۷ – ۳۳، ۲۸ – ۶۹ «ن»: دا يو کلی دی چي د «امبر» او د «ګوا منګل کلا» [48] تر منځ له علي خيلو تر غزني پوري دښتي کي چي ښـهٔ خړوبه دښته ده واقع دی. دلته ټول کال اوبـهٔ پريمانه دي. د ۸۰۰ ځارويو لپاره خوراک توکي چي د يوې ورځي کفاف ئـي وکړي او د ۵۰۰ مونډو په شاو خوا کي نا ژرنده سوي غلات کيدای سي د دې کلي د ۵ مايلی له شاو خواوو څخه راټول سي. همدا شان سون توکي هم تر لاسه کيدای سي. (کريګ، جانسټن)

**ميرزا محـمد علي:** ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل د سيند په کينه غاړه کي د يکه توت په ښارګوټي کي او د شيرپور په ختيځ کي يوه مربع ډوله کوچنی کلی دی چي د مربعي هر مخ ئـي ۵۰ يارډه اوږدوالی لري. استوګن وګړي: قزلباشان. (جنکينز)

* **ميرزا وال**: ۲۲ – ۳۳، ۱۸ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولايت کي د غزني د سويل لويديځ په ۱۵ مايلی او د «مستوفي[49]» د لويديځ په نېــږدې ۳ مايلی کي يو کلی دی.

**ميرزايان**: ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخ آب په علاقه داري کي يو کلی دی چي د «ظلم آباد» [50] د سويل ختيځ په نېــږدې ۲ مايلی کي واقع دی. استوګن وګړي: غلزي. (جنکينز)

**ميش خيل**: [51] :دا د غزني د سويل لويديځ په ۴۰ مايلی کي يو کلی دی. (تورنتون)

**مس خيل**: [52]: دا په کټواز کي د سليمان خيل غلزيو يو کلی دی.

---

46- MIRZAKAI Or SURKHAI : ددې نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء «ميرزا کي» ليکلی دی چي تايپي تيروتنه ده. - ژ

47 - Karlachi

48-Gwamangal Kala,

49-Mustaufi

50 -Zulmabad

51-MISH KHEL

52-MIS KHEL



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

**مسکین** :ــ۳۵، ــ ۶۹: دا د کابل په کوهستان کې د «بایان – دولانه» [53] تر منځ یو کلی دی. دا کلی یوه کلا او ۱۲۰ کورونه لري. استوګن وګړي: تاجیکان. د دې ځای ځمکه ډېــره حاصلخیزه ده او د شولو په ګډون هر ډول غلات په کې وده کوي او کرل کــېږي؛ همدا شان دا کلی تاکستانونه او د میوو د نورو ونو په منځ کې د توتو ونې هم لري. دې کلي ته د چاریکار له سیند څخه یو نهر راغځول سوی دی. (آی. بي. سي)

**مسکین**: ــ۳۵ ، ــ ۶۹: دا د کابل په چاردهي کې د «ایند‌اکي» او «غائـب» [54] تر منځ یو کلی دی. دا کلی د تاجیکانو ۵۰ کورونه لري. د دې کلي وګړي خټګر «ګل کاران» دي یعنې دا کسان په هغو کارونو کې ګومارل کــېـږي چې هلته خښتې نــهٔ بلکه خټې او د خټو د پلاستر په کارونو او نورو کې ګومارل کــېـږي. (آی. بي. سي)

* **میټه** : [55]: ۱۹ – ۳۳، ۲۶ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د «وازې؟» [56] [وازې خوا ـــ ژ] په سویل کې د «سید خیلو الګد» [57] د یوې څانګې پر غاړې یو کلی دی.

**میټهي**: [58]: ــ ۳۳، ــ ۶۹: دا یو سیند دی چې د «لال دار» [59] له سیند سره له لویدیځ لوري په هغـهٔ تکي کې یو ځای کــېـږي چې د «بــیـلوت» د شمال په ۳ مایلۍ کې سړک د «لکړی» [60] پر کوتل ورځي. دا دواړه سیندونه یوه لویه مخ خلاصې چمن پوښلې ساحه رانغاړي چې نیم مایل اوږده او د مایل د ربعې په اندازې ارتوالی لري. له دواړو خواوو ئـې غرونه ټیټ خو ډېــر ستوغ دي. (کولت)

* **مــیــتــرانــي**: [61]: ۱۱ – ۳۴، ۳۸ – ۷۰ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کې د شاهي کوټ د سویل ختیځ په نېــږدې ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

**میټه خیل**: میټاخیل: [62]: دا په کټواز کې د سلیمانخیل غلزیو یو کلی دی. په دې نوم دوه نور کلي هم سته چې یو ئـې د آبِ ایستاده په سویل لویدیځ کې په ۱۴ – ۳۲، ۵۱ – ۶۷ «ن» کې او بل ئـې په ۵۰ – ۳۲، ۲۸ – ۶۸ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**میاله صاحب کلا** : [63]: د میالي صاحب زیارت – ژ: ۲۲ – ۳۴، ۳۹ – ۷۰ «ج»: دا د پــېــښور – جلال آباد د سړک پر غاړې د «علي بوغان» په ختیځ کې یو کوچنی کلی دی. دلته یو مشهور زیارت دی چې د لیونیانو د علاج ځواک لري. (کابل مأموریت، ۱۹۰۵ز کال)

---

53 -Baian Daolana
54-Indaki and Ghaib
55-MITA
56-Waze
57-Saidkhelo Lgad
58-MITHAI
59-Laladar
60-Lakarai pass
61-MITRANI
62-MITTA KHEL
63-MIYALA SAHIB KALA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

**میزه ؟** : [64]: دا د بهسود د هزاره ګانو یوه اساسي څانګه ده.

**موغت** : [65]: ۳۳ – ۳۴، ۱۰ – ۶۹ «ج»: دا د شیرپور په شمال کې د وزیر آباد د اوبو بند په سویلي ساحل کې یو کوچنی کلی دی چې له درېو برخو جوړ سوی دی. استوګن وګړي: قزلباشان. (کینیډي)

**موهار بردک:** [66] :دا د غزني په ولسوالي کې د کندهار پر لور د سړک دغاړې په اوږدو کې یو کلی دی. استوګن وګړي: اندړ غلزي. (هستینګز)

**محبت کالو زاییده :** [67]: دا د فولاده هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده.

**موهین کلا :** [68]: دا غزني ته د تللي سړک د غاړې په اوږدو کې له قلات غلزایي څخه ۴۵ مایله لیرې یو کلی دی.

**مهمند**: د شرحې لپاره وګورئ: د شمال لویدیځ سرحد ګزیټـیـر [69] (بـېـلو)

**مهمند**: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د لوګر په درې کې د تـنګي واغ جان په سویل کې یو کلی دی. استوګن وګړي: مهمند. په ۱۸۸۰ز کال کې دلته د دوی شمـېـر ۴۰ کورنی وو. (کلیفرډ، ایوان سمیټ)

نور بیا

**مُهمَند: یا: ماهمند: دا د جلال آباد یو سیند دی او له هغې...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

---

[64]-MIZAH
[65]-MOGHAT
[66]-MOHAR BARDAK
[67]-MOHHAT KALOZAIDA
[68]-MOHIN KALA
[69]-N.W.F. Gazetteer


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولـئ